د اهل سنتو په حديثونو کې

# د اهل بيتو او اصحابو مقام

تاليف

آية الله محمد آصف محسني

کابل ۲۲-۱-۱۳۸۲

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د دغه کتاب مقصد

د مسلمانانو اتحاد ، د ملت هوساینه او دهیواد رغاونه ده

ډالۍ

هغو هوښیارانو ته چې د ملي وحدت غوښتونکي دي

الحمد لله الواحد الاحد الحکيم الصمد الذي من عز جلاله انه لم يلد و لم يولد ، الذي عرفنا وحدانيه بقوله: ولم يکن کفوا .
والصلاه والسلام على نبيه المسدد والمويد ابي القاسم محمد وعلى آله الذين ورد في حقهم:
انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت ويطهرکم تطهيرا .
وعلى اصحابه الذين مدحهم القران بقوله: محمد رسول الله والذين معهم اشداء على الفکار رحماء بينهم تراهم رکعا سجدا يبتغون فضلا من الله ورضوانا سيماهم في وجوههم من اثر السجود . ذلک مثلهم في التوره و مثلهم في الانجيل

## سريزه:

زمونږ هيواد تر هغې پرمختګ نه شي کولای چې ملي وحدت پکې پياوړی نه شي او اجتماعي عدالت او شايسته سالاري پکې ټينګه نه شي.
د ملي وحدت يو ډير مهم عامل د هيواد د اهل سنت او شيعو تر مينځ د ناوړه تفاهم ختمول دي چې د پرديو د مداخلې او داخلي ناپوهی او کله هم د کم علمه او ناپوه او متعصبه ملا وزمو په وجه ورسره ځيني خلک مخامخ دي. د اسلامي پيروانو تر منځ دوستي او بيازمونږ دشاته پاتې هيواد په سياسي اجتماعي اقتصادي زمينو کې دهغوي مخلصانه ملګرتيا يوازې په شعارونو او د ادبي کلماتو په تبادلې سره په اساسي توګه نه تر سره کيږي. بلکه ضروري ده چې يو او بل په اساسي توګه وپيژندل شي . او د يو بل عقايد او اراء په سمه توګه درک کړي چې د دواړو مسلمانو ور ونو په ديني او اسلامي مشترکاتو يې قناعت حاصل شي. او پوه شي چې د دوي اختلافي مسائل ډير کم او فرعي دي.
او په بله ژبه ددغه دوه اسلامي مذهبونو د پيروانو نژدې والی به له عاطفي او اخلاقي لارو محدود او موقتي وي. نو بايد هغه په منطقي او معقولو لارو لا سته راوړل شي. چې پايداره او عام وي. او په لومړي ګام کې د دواړو لورو عالمان په دغه نژدې والي او وررولی قانع شي چې هغوي بيا خلک هم قانع کړی شي.

د مذهبي عالمانو او خلکو تر مينځ دريمه ډله هم شته چې د خپل مذهب د پيروانو په قانعولو او په نتيجه کې د شيعه او سني په نزدې والي، د ديني وروروليـ په مزبوتيا او په سياسي اجتماعي چارو او دهيواد په ابادولو کې رول ولوبوي. دا دريمه ډله د پوهنتون فارغ التحصيلان روشن فکران د تعليم خاوندان او د شيعه او سني متفکره کارمندان دي.
نو ضروري ده چې هم د مذهبي علم لرونکي او هم د پوهنتون متدين تعليم يافته کسان د خپلو مذهبي اصولو او عقايدو په روښانه کولو کې هڅه وکړي او پوه شي چې دهغوي ديني ورورولي او مينه او ملګرتيا د اسلام د دين په تقويت او د ملي او هيوادني منافعو په لاره کې نه يوازې دا چې څه مانع نه

لري بلکه ښه هم ده. او دواړه اسلامي مذهبه او لارې دي او د شيعه او سني مذهب پيروان مسلمانان دي.
دواړه لوري په يو خداي چې د دنړۍ مدبر او رازق او روزي رسان دی عقيده لري او دواړه قران مجيد د خداي کتاب او پيروي يې لازمه ګڼي. او د اسلام د دين په اصولو) توحيد نبوت، معاد (قائل دي. او په انبياوو رسولانو ، اسماني کتابونو او ملائکو ايمان لري. او د دين ضروريات لکه لمونځ روژه ، حج جهاد زکات خمس امر بالمعروف او نهي عن المنکر مني. او شراب، مرداره د خنزير غوښه سود ، ريا . زنا ، لواط او هغه ټول سپک کارونه چې په قران مجيد او د رسو ل الله مبارک په سنتو کې ترې نهي شوې ده حرام ګڼي. او په جزئي فروعاتو کې اختلاف چې د مجتهدانو له لوري د اجتهادي اصولو په بنياد شوي دي دين ته تاوان نه رسوي.
مجتهد که صحيح فتوا ورکړي وي او که غلطي يې کړي وي اجر لري. او هيڅ اعتراض پرې نيشته. هر يو انسان په خپل وس پړ دی
ناصبي ، غالي او کافران
هغه څه چې د شيعه او سني نوراني فضا يې کله کله تياره کړې ده له دغو مذهبونو څخه نه دي دا دوه) شيعه او سني (د عقايدو په اصولو او د شريعت په کلياتو کې سره متفق دي. د شيعه او سني مشکل له بهره راغلی دی چې په ناحقه پکې هغوي ښکيل شوي دي. او مسلمان متفکران که هغه شيعه وي او که سني بايد د دې چاره وکړي.
هو دا مشکل بايد د ناسور د دانې په شان د علم او منطق په وسيله جراحي شي چې د مسلمانانو تنه سالمه او روغه شي.
په نهايي تحليل کې د ځينو شيعه او سني بد بيني او دښمني په لاشعوري ډول دوو عواملو داخلي او بهرنيو عواملو ته رسيږي.
خارجي عامل: کفار او د اسلام دښمنان دي چې يا اسلام ته د تاوان رسولو او يا هم د اسلامي هيوادونو د شتمنيو د ښکيلاک او زيبښاک لپاره په مختلفو نومونو نيغ په نيغه او يا د ناپوهو ، د کمزورو ايمانونو دخاوندانو او شکم پرسته ملايانو او يا هم د تالي څټو ګوندونو په وسيله يې چې

اوس دود شوي دي مسلمانان له يو بله جدا کړي دي .  او  په هغوي کې يې د نفاق او بد بينۍ تخم شيندلی دی اوشيندي يې . او عوام يې له يو بل سره ښکيل کړي دي . نو په  مسلمانانو کې دا متل مشهور شوی دی چې بيل يې که ايل يې که ، ) فرق تسود  (
له دغه عامل سره مبارزه ډيره ګرانه ده ځکه بهرنيان په داخل کې ضعيف الايمانه کسانو او بې دينانو ته ډيرې پيسې ورکوي او هغوي هم د جاسوسۍ او حتي د باطلو دينونو دودولو او د ملي خيانت لپاره تل تيار دي. تشکيلات لري. خپرونې لري او د خپلو بادارانو لخوا يې ملاتړ کيږي. خوږې خبرې کوي او تل خپل عزت په پيسو قربانوي.
داخلي عامل: له يو بله د مسلمانانو د ليرې والي او دتفرقې درې عوامله معرفي کولای شو .
١

: کم سواده يا ساده  او يا متعصب جاه طلب او ډوډۍ مار بې تقوا ملايان چې د خيټې دولت او شهرت لپاره په ناحقه مذهبي اختلافاتو ته لمن وهي او بې خبره عوام ګمراه کوي. او دين چې دمسلمانانو د مينې او محبت سبب دی د دښمنۍ او فساد په لامل بدلوي. د دوي شر د کفارو تر شره زياته اغيزه لري .
٢
: ناصبيان چې د پيغمبر د اهل بيتو دښمنان دي او د  اهل بيتو او د هغوي د پيروانو له هيڅ سپکاوي او دروغو ډډه نه کوي.
ځينې ناخبره شيعه کسان خيال کوي چې ټول اهل سنت داسې دي نو په ټولو اهل سنتو بد بينه کيږي.
په داسې حال کې چې ناصبيان ډير کم دي او اهل سنت له اهل بيتو )ع( سر ه مينه کوي. او مونږ به په دې کتاب کې دا خبره ثابته کړو .
٣ : غاليان ،چې د اهل بيتو امامانو مرتبه يې )نعوذ بالله ( د الوهيت تر درجې لوړه کړې ده. او قهرا د اصحابو په حق کې بې ادبي کوي.
خو اول دې شيعه پوه شي چې هر سني ناصبي نه دی ناصبيان وړه شان ډله ده چې ډيره برخه يې نن سبا په يو عربي هيواد کې دي او  دهغوي افراط کارۍ سبب شوي دي چې اسلامي نړۍ ته ډير تاوانونو و رسيږي. اوبله داچې اهل سنت دې پوه شي چې دغه  غاليان چې ذکر يې وشو په شيعو کې ملعون او کافران ګڼل کيږي لکه څرنګه چې ناصبيان له سنيانو سره اړه نه لري غاليان هم له شيعو سره اړيکي نه لري.
که مونږ مسلمانان وغواړو دغه دوه ډلې له ځانه ليرې کړو او  وسوسه نه شو زمونږ نږدې والی پياوړې کيږي.

## اساسي او حساسيت جوړوونکې موضوع

د دین په اصولو ـ توحید نبوت او معاد کې الحمدلله د شیعه او سینیانو په منځ کې څه لوي اختلاف نیشته خو هغه څه چې د اختلاف وړ ګرځیدلي دي او تقریبا ټول مسلمانان یې په دوو ډلو شیعه او سني تقسیم کړي دي د اهل بیتو او اصحابو مسله ده.
اهل سنت د صحابه و )رض( پیروي کوي او د رسو ل الله مبارک حدیثونه د اصحابو له لارې لاسته راوړي دي.
اهل تشیع د اهل بیتو پیروي کوي او د رسول الله مبارک حدیثونه یې د اهل بیتو امامانو له لارې لاسته راوړي دي او همدا په شیعه او سني کې اساسي فرق دی.
په دې هکله څو ټکو ته پام وکړئ.
۱

: ددواړو لورو ډیر حدیثونه په الفاظو او معنو کې له یو بل سره سمون خوري . ځکه چې د دغو حدیثونو منبع ) حضرت خاتم الانبیاء ( یوه ده او یوازې د نقلولو په لا ریې کې یې فرق دی چې کوم مشکل نه لري..
۲: ټول حدیثونه په قطعي لاره نه دي رسیدلي مسلما د روایانو دروغوالی او غلطي د ځینو حدیثونو د تفاوت او ټکر سبب شوي دي. نو په مدونه حدیثونو کې ټکر حتی په عملي فروعاتو کې د اهل سنتو او شیعو په کتابونو کې لیدل کیږي.

۳
: د راویانو ضعف جهالت او وثاقت که هغه په یو مذهب کې دننه وي او که ددواړو مذهبونو په ملاحظې سره د حدیثونو په اعتبار او نه اعتبار کې ډیر اغیز لري او دا بند د هماغه تیر ) دوهم (بند په شان یو علمي او نظري بحث دی چې باید په هغه حساسیت ونه ښودل شي.
۴: د سنتو د اخستلو په لاره کې اختلاف باید د بدبینۍ سبب نه شي او انسانان په مختلفو مسائلو کې د نظر اختلاف لري. عقلاني لاره دا ده چې هر یو لوری د بل لوري درناوی وکړي. په تیره بیا دا چې د دین په اصولو او د فروعو په کلیاتو کې دنظر یو والی موجود دی.
هغه څه چې د اختلاف او لیرې والي سبب کیږي دا دي چې هر یو لوری د یو بل سپیڅلتیاوو ته بې ادبي او بد زباني وکړي. او دا کار چې مونږ مخکې وویل چې دغالیانو او ناصبیانو دی په اور باندې د تیلو د اچولو په شان دی. او زمونږ هیواد او اسلام او مسلمانانو ته خیانت.

## د قران مجید قول فصل.

قران چې اسماني کتاب دی او ټول يې مني هم د اهل بيتو د مقام درناو ی کوي او هم يې د تقوا دارو اصحابو تعريف کړی دی نو شيعه موظف دي چې د اصحابو درناوی وکړي.
قران مجيد د مخکښنو اصحابو په هکله داسې وايي : السابقون الاولون من المهاجرين و الانصار والذين اتبعوهم باحسان رضي الله عنهم ورضي ورضوانه و اعد لهم جنات تجري من تحتها الانهار خالدين فيها ابدا ذالک الفوز العظيم.) سوره توبه ۱۰۰ ايت (
لومړي مخکښان) د خدای د ايمان او د رسول د تصديق په لور (له مهاجرو او انصارو ، او هغه کسان چې له دوي يې نيکه پيروي کړې ده خداي تعالی له هغوي راضي دی او دوي هم له خدايه راضي دي او د دوي لپاره يې جنتونه تياري کړي دي چې پکې نهرونه دي حال دا چې هغه) په مهاجرو او انصارو کې مخکښان او نور ښه اصحاب چې دهغوي پيروي يې کړې ده ( په هغه جنت کې تل پاتې دي او دا ده لويه کاميابي.

هيڅ يو شيعه په خپل ذهن کې هم له دغه ايت سره مخالفت نه شي راوستلی ، نو اهل سنت دې مطمئن وي چې شيعه د دغو اصحابو درنښت کوي او هغوي لوي او د احترام او ستر توب خاوندان ګڼي.
او همدا راز قران د اهل بيتو په هکله فرمايي: انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت ويطهرکم تطهيرا ) احزاب سوره ۳۳ ( خداي تعالی اراده کوي چې له تاسو اهل بيتو پليتي ليرې کړي او تاسو پاک وګرځوي. يعنې خداي تعالی اهل بيت له هر ډول پليتۍ رجس او معصيته پاک ګرځولي دي. د اهل سنتو د روايتونو په اساس چې ځينې به يې وروسته ذکر شي ، له اهل بيتو مراد حضرت علي ، فاطمه حسن او حسين دي چې په سر کې يې رسول الله مبارک دی.
کوم يو سني په دغه روايت سترګې پټولای شي ؟ نو زه شيعو ته اطمينان ورکوم چې اهل سنت د همدغه قراني ايت په اساس د پيغمبر اهل بيتو ته ګوري.

کله چې اصحاب د شيعو په نظر کې محترم وي او اهل بيت د اهل سنتو په نظر کې محترم وي ، نو بيا د شيعه اوسني په منځ کې څه مشکل پاتې کيږي ؟ او د هغوي دمينې ورورولۍ اسلامي اخوت او ښيګړې لپاره کوم خنډ پاتې کيږي ؟ مګر جهالت او احمقانه تعصب او د پرديو او شکم پرستو تالي څټو هلې ځلې.
ان هذه امتکم امة واحده و انا ربکم فاعبدون ، واعتصموا بحبل الله جميعا و لا تفرقوا . انما المومنون اخوة فاصلحوا بين اخويکم.
علامه اقبال وايي:

از حجاز و چين و ايرانيـــم ما ـــــــــــــ شبنم يک صبح خندانيم مـــــا
مست چشم ساقي بحطاستيم ـــــــــــــ در جهان مثل می و مينا ستـــيم

امتیازات نسب را پاک سوخت ــــــــــــ آتش او خس وخاشاک سوخــــت
چون گل صد برگ ما را بو یکیست ــــــــــ او ست جان این نظام و او یکیست
تانه این وحدت ز دست ما رود ـــــــــ هستي ما تا ابد همــــــدم رود

## د اهل سنتو په احادیثو کې د اهل بیتو مقام

مونږ د دې د ثابتولو لپاره چې اهل بیت د اهل سنتو د عالمانو په نزد لوړ مقام لري د اهل سنتو دکتابونو څلویښت معتبر حدیثونه ذکر کوو چې د مسلمانانو د دغه دوو مکتبونو تر منیځ اتحاد مزبوت کړو . والله من وراء القصد .
۱

: عن عائشه ) رض ( خرج النبي صلی الله علیه وسلم ـ غداه وعلیه مرط مرحل من الشعر اسود ، فجاء الحسن بن علي فدخله ، ثم جاء حسین ابن علي فدخله ثم جاء ت فاطمه فدخلهاثم جاء علي فادخله ثم قال: انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا )[۱] (
ام الموءمنین وایي سهار مهال پیغمبر راووته او په بدن یې تورو وینښتو نقشدار څادر و . بیا د عل زوی حسن راغی حضرت هغه تر څادر لاندې کړ ، او بیا حسین راغی او تر څادر لاندې شو ، ورپسې فاطمه راغله هغه یې هم تر څادر لاندې کړه اوبیا علي راغی اوهغه یې هم له ځان سره تر څادر لاندې کړ بیا یې وفرمایل : انما یرید الله لیذهب عنکم الرجس اهل البیت ویطهرکم تطهیرا . د رجس تفسیر په شک عذاب او گناه سره شوی دی.
۲

: له ابي هریریه حدیث دی چې ..... له حسن او حسین یوهٔ کس یوه خرما واخسته او په خوله کې یې کیښوده پیغمبر هغه ته وکتل او هغه یې له خولې راوویستله او وې فرمایل: ایا تا ته پته نه ده چې آل محمد صدقه نه خوري ؟۲

---

۱۱ : صحیح مسلم ټوک ۱۹۴-۱۵
۲ : صحیح بخاري شمیره ۱۴۱۴ کتاب الزکات . دې ته ورته په بخاري کې دوه نور روایتونه هم شته په ۱۴۲۰ او ۲۹۴۳ شمیرې کې راغلي دي او د صحیح مسلم لومړي ټوک کې هم نقل شوی دی .
۳ : صحیح بخاري شمیره ۲۰۱۲

۳: له ابو هريره يو حديث راغلی دی چې .... پيغمبر د حسن په غاړه کې لاس واچوه هغه يې ښکل کړ او وې فرمايل: خداي دې له ده سره مينه وکړي او خوښ دې کړي هغه کس چې له حسن سره مينه کوي. )۳(
۴: له سعده حديث دی چې .... کل چې دا ايت نازل شو: تعالوا ندع ابناءنا و ابناءکم و نسائنا و نسائکم .....د خداي رسول علي فاطمه حسن او حسين وبلل او عرض يې وکړ. اي خدايا دا زما اهل بيت دي) جامع ترمذي ۳۲_ ۳ ټوک صحيح الاسناد (دا حديث د اهل بيتو لپاره لوي فضائل ثابتوي.
۵: له ابي سعيده... قال رسول الله الحسن والحسين سيدا شباب اهل الجنة) جامع الترمذي ۲۲۳ (
۶: له ابي هريره: رسول الله مبارک وفرمايل: جعفر مې وليد چې له ملائکو سره يې په جنت کې الوت کاوه.) جامع الترمذي ۲۲۳ (
۷: له يعلي بن مره ، هغه حضرت) ص( وفرمايل: حسين له ما دی او زه له حسينه يم خداي دی مينه وکړي له هغه چا سره چې له حسين سره مينه کوي ، حسين له اثباتو يو سبط دی) جامع الترمذي ۲۲۵ (
۸

: براء وايي: په صلح حديبيه کې هغه حضرت)ص( علي ته وفرمايل: ته له ما يې او زه له تا.) صحيح بخاري ۲۵۵۲(.

۹: سهل ساعدي نقلوي چې: حضرت پيغمبر د خيبر په ورځ وفرمايل: زه به سبا بيرغ د داسې کس په لاس ورکوم چې خداي به دهغه په لاس فتح نصيب کړي) هغه (له خدای او رسول سره مينه کوي او خدای او رسول يې هم له هغه سره مينه کوي. خلک شپه سبا کړه په دې فکر چې سبا به بيرغ چاته ورکول کيږي ؟ سبا ټول اصحاب په دې اميد وو ، پيغمبر وفرمايل: علي چيرته دی؟ عرض وشو په سترګو يې درد دی. هغه حضرت د علي په سترګو خپلې لاړې ولګولې او دهغه لپاره يې دعا وکړه د حضرت علي سترګې ښې شوې ته وا مخکې هېڅ خوږ نه وې نو بيرغ يې هغه ته ورکړ نو عرض يې وکړ له هغوي سره وجنګيږم تردې چې زمونږ په شان) مسلمان ( شي. وې فرمايل: په ارام سره لاړ شه چې هغوي) د خيبر يهودو (ته ورسيږې بيا هغوي د اسلام په لور وغواړه او هغوي ته خبر ورکړه د هغه څه چې په هغوي واجبيږي. په خداي قسم که خداي يو کس ستا په لاس هدايت کړي ستا لپاره د سرو وينښتانو تر اوښانو) چې په عربو کې يې ډيره بيه درلوده (ښهٔ دی.) صحيح بخاري ، کتاب جهاد ، ۲۸۴۷ او صحيح مسلم دولسم ټوک ۱۲_ ۵۸ (ټولو ته پته ده چې علي په ډيره ميړانه دخيبر کلا فتحه کړه او په خيبر ګشا مشهور شو.

۱۰: له بي بي عائشې ) رض ( په يو حديث کې راغلي دي رسول الله مبارک د خپل رحلت په ناروغۍ کې بي بي فاطمې ته وفرمايل : ايا نه راضي کيږې چې د جنت د ميرمنو يا د مومنو ښځو سرداره وې ؟ ) صحيح بخاري کتاب مناقب ، شميره ، ۳۴۲۶ او صحيح مسلم ټوک ۱۸_۲_۵ (
۱۱ : له مسوره څخه په يو حديث کې له رسول الله مبارکه دا سې نقل شوي دي ، فاطمه زما د بدن ټوټه ده چا چې هغه غوسه کړه زه يې غوسه کړې يم ، )صحيح بخاري ، فضائل الصحابه شميره ۳۵۱۰
۱۲ : سعد وايي : حضرت پيغمبر )ص ( علي ته وفرمايل : اما ترضى ان تكون منى بمنزلة هارون من موسى. ايا ته راضي نه يې چې زما لپاره دا سې شې لکه د موسى لپاره چې هارون و. ؟) صحيح بخاري شميره ۳۵۰۳ کتاب فضائل الصحابه ( او مسلم په خپل صحيح کې زياتوي: الا انه لا نبي بعدي ، مگر دا چې له ما وروسته نبي نيشته.
يعنې هغه ټول مقامونه چې د موسى له لوري د هارون لپاره وو ستا لپاره دي خو هارون نبي و او ته د نبوت منزلت نه لرې ځکه چې زه خاتم النبيين يم.
۱۳: د زيد بن ارقم د حديث په ضمن کې راغلي دي: دخداي رسول يوه ورځ د يو حوض په خوا کې چې خم يې نامه وه د مکې او مدينې ترمينځ) غدير خم ( کې ودريده او خطبه يې ولوستله دخداي شکر يې ادا کړ او ثنا يې وويله او موعظه يې وکړه. اوبيا يې وفرمايل: اې خلکو خبر اوسئ زه يو ازې يو بشر

يم او نږدې ده چې ستاسو له منځه لاړ شم او زه په تاسو کې دوه درانه او غوره څيزونه پريږدم په هغو کې يو د خداي کتاب دی چې په هغه کې هدايت او نور او رڼا ده. د خدای کتاب ونيسئ او عمل پرې

وکړئ. بيا يې خلک دخدای کتاب ته وبلل او وې هڅول ، اوبيا يې وفرمايل او بل زما اهل بيت د خپل اهل بيتو په حق کې خداي تاسو ته دريادوم. خداي دخپلو اهل بيتو په حق کې تاسو ته دريادوم ، خدای د خپلو اهل بيتو په حق کې تاسو ته دريادوم. ) يعنې درې ځله يې دا خبره تکرار کړه چې زما د اهل بيتو حق مه هيروئ.
حصين بن زيد بن ارقم ) دحديث راوي ( وويل : د پيغمبر اهل بيت څوک دي ؟ آيا دهغوي بيبيانې د هغوي له اهل بيتو نه دي. ؟
زيد وويل : د هغوي ميرمنې د هغوي له ا هل بيتو ) په يوې معنى ( دي خو دهغه اهل بيت هغه کسان دي چې صدقه اخستل پرې حرام شوي دي حصين وويل: هغه څوک دي؟
زيد وويل: هغه آل علي ، آل عقيل ، آل جعفر او آل عباس دي.
حصين وويل په دغو ټولو صدقه حرامه ده ؟زيد وويل: هو ) صحيح مسلم ۱۵- ۱۸۰ ۱۷۹ (
۱۴ : عمر بن ابي سلمه وايي : کله چې دا ايت په رسول الله مبارک د ام سلمه په کور کې نازله شو ه ) انما يريد الله ليذهب عنکم الرجس اهل البيت و يطهرکم تطهيرا ( نو فاطمه حسن او حسين يې وغوښتل او هغوي يې په يو څادر کې ننويستل او علي يې شاته و او هغه يې هم په څادر کې داخل کړ او ټول يې په څادر کې پټ کړل. بيا يې وفرمايل:

اي خدايا دا زما اهل بيت دي پليتي له ددي ليرې کړه او دوي پاک وګرځوه . ام سلمه وويل : زه هم له دوي سره يم ؟

هغه حضرت وفرمايل : ته په خپل ځاي کې يې او ته د خير ښتنه يې . جامع ترمذي دريم ټوک ۹۲ (
۱۵ : عن حبشي بن جناده ، قال رسول الله )ص ( علي له ما دی او زه له علي يم او نه ادا کوي له ما مګر زه يا علي . ) د روايت معنا ته دقت وکړئ ( جامع ترمذي دريم ټوک ۲۱۴ (
۱۶: له حذيفه يو حديث دی چې ....ان هذا ملک لم ينزل .....دا ملايکه وه چې له دې شپې مخکې هيڅ کله په ما نه وه نازله شوې ، له خپل ربه يې اجازه واخسته چې ماته سلام وکړي او ماته زيری راکړي چې فاطمه د جنت د ښځو ميرمنه ده او دا چې حسن او حسين د جنت د ځوانانو سرداران دي . ) جامع ترمذي دريم ټوک ۲۴۲ (
۱۷

۱۷: عبدالسلام بن الصلت هروي وايي : مونږ ته حديث ووايه علي بن موسى الرضا له خپل پلار ) موسى بن جعفره ( له جعفر بن محمد له پلاره يې علي بن الحسين له پلاره يې علي ابن ابي طالب چې پيغمبر وفرمايل : ) الايمان معرفة بالقلب وقول باللسان و عمل بالاركان ، بيا ابو الصلت وويل که دغه

اسناد ) يعنې د اهل بيتو د اوو امامانو امام رضا ، امام موسى کاظم امام جعفر صادق ، امام محمد باقر او امام زين العابدين او امام حسين او امام علي ابن ابيطالب ( نومونه په يو ليوني هم ووايې روغ به شي ) مقدمه جامع ترمذي ۲۵ مخ (
۱۸

: براء ابن عاذب وايي : دخداي له رسول سره په يو حج کې ) حجه الوداع ( کې لاړو . په لاره کې راکوز شو او د جمعې دلمانځه امر يې وکړ . بيا يې دعلي لاس ونيوه او وې فرمايل : الست اولى بالمومنين من انفسهم ، ايا زه پر مومنانو د هغوي تر ځانه زيات حق نه لرم ؟ عرض يې وکړ . هو يا رسول الله . وې فرمايل : نو دا ) علي ( د هغه چا ولي دی چې زه يې مولا يم اي خدايا مينه وکړه له هغه چا سره چې له علي سره مينه وکړي او دښمني وکړه له هغه چا سره چې له علي سره دښمني وکړي . ) مقدمه جامع ترمذي ۱۱۲ مخ (
۱۹ د عمران بن حصين په حديث کې راغلي دي خدای رسول په داسې حال کې چې په مخ يې دغوسې اثار ښکاره وو وې فرمايل : له علي څه غواړئ؟ له علي څه غواړئ ؟ له علي څه غواړئ؟ بيشکه چې علي له ما دی او زه له علي يم او هغه له ما وروسته دهر مومن ولي دی . ) جامع ترمذي دريم ټوک ۲۱۳ (
۲۰: ابن عمر )رض( وايي : د خداي رسول وفرمايل : حسن او حسين د جنت د ځوانانو دوه سرداران دي او پلار يې تر دوي هم غوره دی . ) مقدمه سنن ابن ماجه ۱۴۴ (

۲۱ : و عن علي : انا عبد الله و اخو رسوله و انا صديق الاكبر ، لا يقولها بعدي الا كداب صليت قبل الناس سبع سنين ، ) همدغه كتاب ۱۲۰ ( د زوائد له كتابه نقل شوې ده چې د دغه روايت اسناد صحيح دي او روايان يې موثق دي. او حاكم دغه حديث په مستدرک کې له منهاله نقل کړی دی او ويلي يې دي صحيح على الشرط الشيخين.
۲۲ : زيد ابن ارقم له رسول الله مبارکه حديث نقل کړی چې علي فاطمې حسن او حسين ته يې وفرمايل: زه هر هغه هغه کس سره چې له تاسو سره په سوله کې وي په سوله کې يم او له هر هغه چا سره چې له تاسو سره په جنگ کې وي په جنگ کې يم. ) مقدمه سنن ابن ماجه ۱۴۵ (
۲۴ : کعب ابن عجره په يو حديث کې وايي: د خداي له رسوله مو پوښتنه وکړه چې په تاسو اهل بيتو صلوة څه ډول دی ؟ ځکه خداي تعالی مونږ ته تعليم راکړی چې په تاسو صلوات ولیږو .؟ وې فرمایل: وايئ : اللهم صلی علی محمد و آل محمد کما صليت علی ابراهيم و آل ابراهيم انک حميد مجيد . اللهم بارک علی محمد و آل محد کما بارکت علی ا براهيم و آل ابراهيم انک حيمد مجيد ) صحيح بخاري کتاب الانبياء شميره ۳۱۹۰ (
۲۵

۲۵

: زيد ابن خارجه وايي چې ما دخداي له پيغمبره پوښتنه وکړه ، وې فرمايل: په ما درود وليږئ او ډيره دعا کوئ او ووايئ: اللهم صلی علی محمد و آل محمد . ) سنن نسائي دريم ټوک ۴۹ او نور اسناد او متون هلته وگورئ (
۲۶ : علی د خدای له رسوله نقلوي چې وې فرمايل: المهدي منا اهل البيت يصلحه الله فی اليله. ) سنن ابن ماجه شميره ۴۰۸۵ (
۲۷

: انس وايي: دخداي له رسوله مې واوريدل چې وې فرمايل: مونږ د عبد المطلب بچيان د جنت د خلکو سردران يو. زه ، حمزه ، علي. جعفر ، حسن ، حسين او مهدي.
)سنن ابن ماجه ۴۰۸۸ (
۲۸ : جابر بن سمره وايي: له پلار سره مې رسول الله مبارک ته ورغلم او وا مې وريدل چې فرمايل يې: دا چاره سر ته نه رسي او نه ختميږي مگر دا چې په مسلمانانو کې دولس خليفه گان ) ځاي ناستي ( تير شي . بيا هغه حضرت يوه خبره وکړه چې ما وا نه اوريده . له پلاره مې پوښتنه وکړه چې څه يې وفرمايل؟ ځواب يې راکړ چې وې فرمايل هغه ټول به له قريشو وي. ) صحيح مسلم د اماره کتاب اول شپږم ټوک (

دا حدیث په مختلفو اسنادو او ډول ډول متنونو سره د اهل سنتو په کتابونو کې نقل شوی دی. یوازې مسلم هغه په اتو طرقو سره له جابر بن سمره نقل کړی دی. په صحیح بخاري کې یې یو یا دوه حدیثه په کتاب احکام کې نقل کړي دي ، چې که دا ټول حدیثونه راټول کړو مسلما د تواتر حد ته رسیږي.
ابن حجر شافعي په خپل صواعق ) ۱۸ مخ ( کې وایي: قال الائمه صدر الحدیث مجمع علی صحته ، واردة من طرق عدیده اخرجه الشیخان و غیرهما فمن تلک الطرق...
امامانو ویلي دي د حدیث اول ) دولس خلیفه ګان دي ( په سموالي یې اجماع ده چې له ګڼو لارو روایت شوی دی او بخاري او مسلم او نورو په خپلو کتابونو کې لیکلی دی نو د حدیث اوله برخه هم متواتره ده او هم دحدیث د خاوندانو او عالمانو په نزد اجماعا صحیح شمیره شوی دی.
شهر دار بن شیرویه دیلمي په مسند کبیر فردوسي کې له ابي سعید خدري نقل کوي چې: له رسول الله مبارک سره مو اول لمونځ وکړ بیا یې خپل مخ مبارک زمونږ په لور راواړوه او وې فرمایل: په تاسو کې زما د اهل بیتو مثال د نوح دکشتۍ یا د په بني اسراییلو کې د حطه د دروازې په شان دی نو له ما وروسته زما په اهل بیتو پورې تمسک وکړئ. زما له ذریته په راشدینو امامانو پسې نو هیڅکله به ګمراه نه شئ.
عرض وشو یارسول الله ، کم ائمه بعدک ؟ قال اثنا عشر من اهل بیتي ، او قال من عترتي. )[21]( یعنې هغه حضرت وفرمایل له ما وروسته امامان زما له اهل بیتو یا زما له عترته دي.
**۲۹**

: قوله )ص( اي خلکو ما په تاسو کې داسې شیز پرېښود چې که هغه ومنئ نو هیڅکله به ګمراه نه شئ. د خداي کتاب او زما عترت او اهل بیت. ) د ترمذي ، نسائي ا کنز العمال هندي اول ټوک ۴۴ مخ په حواله (

دا حدیث هم ډیر اسانید او متنونه لري او د ابن حجر شافعي په قول تر شلو د زیاتو اصحابو له قوله نقل شوی دی او د هغه په ځینو متونو کې راغلي دي و لن یفترقا حتی یردا علي الحوض: قران او اهل بیت هیڅکله له یو بله نه جدا کیږي مګر دا چې د حوض په غاړه ماته راورسیږي.
**۳۰**

: زما د اهل بیتو مثال د نوح د کشتۍ په شان دی چې څوک پکې سپاره شول ژغورل کیږي او څوک چې ترې پاتې شول غرقیږي.) دا حدیث هم متنونه او اسناد لري (
**۳۱**: زید بن ارقم وایي: د خدای رسول وفرمایل هر څوک چې غواړي زما په شان ژوند وکړي او زما په شان له دنیا لاړ شي او په تل پاتې جنت کې خدای تعالی یې ماته وعده راکړې ده هستوګن شي نو مینه

۱۲ : مسند الفردوس له ما سره نه و ما حدیث له عبقات الانوار دوهم ټوک ۹۸۰ مخ دوهم چاپ نه راخستی دی.

دې ولري) فليتول ( له علي بن ابي طالب سره ځکه چې هغه هيڅکله تاسو د هدايت له لارې نه غړوي.
او هيڅکله تاسو نه ګمراه کوي.
) حديث حاکم په خپل مستدرک کې نقل کړی او هغه يې صحيح ګڼلی دی او هم داراز طبراني په کبير ابو نعيم کې په فضائل صحابه او متقي په کنز العمال کې نقل کړی دی (
او د زياد بن مطرف په روايت کې د علي له نوم وروسته د هغه د ذريې نوم هم ذکر شوی دی.
۳۲: قوله )ص( النجوم امانه لاهل الارض من الغرق ، و اهل بيتي امان لامتي من الاختلاف ، فاذا خالفتها قبيله من العرب اختلفوا فصاروا من حزب الابليس. ) رواه الحاکم في مستدرکه و صححها على شرط الشيخين کما في الصواعق ( يعنې ستوري امان دي د ځمکې د خلکو لپاره له دې چې غرق شي او زما اهل بيت د ځکمې د خلکو له پاره له اختلافاتو دبچ کيدو لپاره امان دي ، او د عربو هره قبيله چې زما له اهل بيتو سره مخالفت وکړي ، د ابليس له ګونده ده.
۳۳ : هر څوک چې زما اطاعت وکړي د خدای اطاعت يې کړی دی او څوک چې د علي اطاعت وکړي زما اطاعت يې کړی دی.
) رواه الحاکم دريم ټوک ۱۲ مستدرک ( والذهبي في تلخيصه او دواړو کسانو د بخاري او حسم په شرط دا حديث صحيح ګڼلی دی.
۳۴ : ابن عباس له هغه حضرته )ص( نقلوي چې زه او علي او حسن او حسين او د حسين له اولاده نهه تنه پاک او معصومان يو. ) له ينابيع المودة او فرائد المسطين او د ابن ابي الحديد له شرح نهج البلاغې (
۳۵ : اخرج الخطيب عن انس کما في الصواعق ، چې هغه حضرت )ص( فرمايلي دي د مومن د صحيفې عنوان له علي ابن ابي طالب سره مينه ده.
۳۶

: روي ابن سماک کما في الصواعق ، عن ابا بکر )رض( قال لعلي )ع( : له رسول الله مبارکه مې واوريدل چې وې فرمايل هيڅ کس له صراطه نه تيريږي مګر دا چې علي ورته له صراطه د تيريدو اجازه ) برائت ( وليکي.
۳۷ : قوله ) ص ( کما في الصواعق: په هغه چا قسم چې زما ځان د هغه په لاس کې دی چې څوک له مونږ اهل بيتو سره کينه نه کوي مګر دا چې خداي تعالی يې د په اور کې اچوي.
۳۸

۳۸

: له قاضي عياضه په شفا كتاب ) ۴۰ ( مخ كې راغلي دي چې هغه حضرت وفرمايل : د آل محمد معرفت له اوره برائت ) بچ كيدل ( دي او د آل محمد دوستي پر صراط تيريدل دي او له آل محمد سره مينه له عذابه امان دی.

۳۹ : حاكم په خپل مستدرک كې ) دريم ټوک ۱۸۳ ( له هغه حضرت )ص ( په هغه سند سره چې د بخاري او مسلم په شرط صحيح دي نقلوي چې : ماته د علي په حق كې درې څيزونه نقل شوي دي ، دا چې هغه د مسلمانانو سيد د متقيانو مولا او د الغر المحجلين قائد دی.

۴۰ : په كنز العمال )شپږم ټوک ۱۵۷ ( كې راغلي دي زه او علي حجت يو په خپل امت د قيامت په ورځ. دا يو څو هغه حديثونه وو د اهل بيتو په فضائلو كې چې د اهل سنتو محترمو راويانو او محديثينو نقل كړي دي.

اونتيجه دا چې اهل سنت نه يوازې د اهل بيتو دښمنان نه دي بلكه د اهل بيتو له مخلصانو دوستانو او د هغوي په فضائلو او مناقبو له معتقدانو څخه دي.

او مونږ دلته د اهل بيتو د ويندويي امام جعفر صادق )ع ( څخه په صحيح سند سره دوه روايتونه د رسول الله مبارک د اصحابو په حق كې نقلوو چې زمونږ اهل سنت ورونه پوه شي دشيعو په ضد د دروغجنو تومتونه له حقيته ليرې دي او د غرض له مخې لګول شوي دي او دا دوه مسلمان رونه يو بل ته نزدې دي او بايد له يو بل سره دوستي او ملګرتيا او مينه ولري چې د اسلام ستر توب وساتل شي چې د دواړو لور مقصد او موخه ده.

۱ : منصور ابن حازم له امام صادقه په يو حديث كې پوښتنه كوي : ماته خبر راكړه د رسول الله مبارک د اصحابو په هكله چې ايا ) په هغه څه كې چې له هغه حضرته يې نقل كړي دي ( رښتيا يې ويلي دي كه نه په هغه حضرت )ص ( پورې يې دروغ تړلي دي ؟ ) امام صادق ( ځواب راكړ : هو چې رښتيا يې ويلي دي عرض مې وكړ نو ولې بيا په حديثونو كې ا ختلاف پيدا كړی دی ؟ وې فرمايل : ايا تا ته پته نيشته چې رسول الله مبارک ته به يو كس )صحابي ( راغی او ديو څيز پوښتنه به يې ترې وكړه او هغه حضرت به ځواب وركړ او بيا به يې هغه ته په داسې څيز چې اول ځواب به يې نسخ كاوه ځواب وركاوه )۱

له دې حديثه زما مقصد د نسخ بحث نه دی ځكه چې دهغه په هكله د تحقيق ځاي خو په علم اصول فقه كې دی بلكه زما مطلب دا دی امام صادق ) ع ( هغه اصحاب چې له رسول الله مباركه به يې حديث نقلول تصديق كړي دي. او نه دې ويلي چې په هغوي كې د اختلاف وجه د هغوي دروغواليدی بلكه علت يې نسخ ګڼلی دی. هو ، د دغه حديث له مخې اصحاب بايد صادق او رښتيني وګڼو.

۲ : امام صادق )ع ( په معتبره هشام بن سالم كې فرمايي : د رسول الله مبارک ياران دولس زره تنه وو اته زره له مديني او دوه زره له مكې او دوه زره له طلقاء ) ازادو شويو ( په هغوي كې قدري مرج او حرور او معتزل او صاحب رای نه ليدل كيده شپه ورځ به يې ژړل او له خدايه به يې غوښتل چې مخكې له دې چې خمبيره ډوډۍ وخورو زمونږ روحونه واخله. ) البحار دوه ويشتم ټوک ۳۰۵ نقلا عن الخصال (

اوس چې د اهل سنتو په حديثونو کې د اهل بيتو مقام ) چې ډير لږ يې نقل شول ( او د امام صادق په دوو حديثونو کې د اصحابو مقام مو ولوسته نو پوهيږو چې هغه دروغ چې په شيعه او سني پورې تړل شوي دي بې ارزښته دي په شيعو پورې دا خبره تړل شوې ده چې هغوي بې له درې څلورو اصحابو ) نعوذ بالله ( نور اصحاب کافر ګڼي . دا دروغ هغه وخت رسوا او افشا کيږي چې خبر شو چې ډير اصحاب په جمل او صفين او نهروان جنګونو کې د حضرت په ملګرتيا کې د هغوي له مخالفانو سره د جنګيدو لپاره حاضر وو . او د تاريخ او مشهورو عالمانو په ګواهۍ په دوي کې ډير اصحاب شهيدان شول . ايا معقوله ده چې شيعه هغوي ته کافر ووايي ؟ روند تعصب انسان څومره پوچو او لويو دروغو ته اړباسي.

په سنيانو پورې تړل شوې ده چې هغوي د اهل بيتو دښمنان دي او يا لږ تر لږه د اهل بيتو د فضائلو منکر دي دا بې ځايه دروغ له هغو حديثونو چې ذکر مو کړل په څرګنده باطل او دروغ ثابت شول.

نو شيعه او سني باي د قران د وينا مطابق ) انما المومنون اخوة ( ديني ورونه وي . او د خداي د کتاب د وينا مطابق ) ولا تنازعوا فتفشلو و تذهب ريحکم ( په خپلو کې لانجې او جګړې ونه کړي چې کمزوري او سست نه شي . بلکه د ) تعاونوا على البر والتقوى ( په فرمان . له يو بل سره په ښيګړه او تقوا کې ملګرتيا او مرسته وکړي.

ان هذه امتکم امة واحده و انا ربکم فاتقون.

د داسې ورځې او داسې ښه حالت په هيله.

والسلام

کابل

٢٩-١-١٣٨٢

Download from:aghalibrary.com